مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۱۰/۲۰

# د نمرود د اور په وژلو کي د مرغۍ مرسته

نقل کا چي کله نمرود د ابراهیم علیه السلام په تسلیمولو او د واحد رب له عبادت کولو څخه په راګرځولو کي ناکام سو نو له یوه غره څخه تر بله غره پوري یې اور بل کړ او ابراهیم یې، په ټال یا منجنیق کي، ور وغورځاوه. یوې مرغۍ په مشوکه کي اوبه را اخیستې وې او غوښتل یې چي د نمرود د اور په وژلو او د ابراهیم په ژغورلو کي کار ورڅخه واخلي. چا پوښتنه ورڅخه وکړه چي دا یو څاڅکی اوبه به د نمرود د اور په وژلو کي څه مرسته وکړي؟ مرغۍ جواب ورکړ چي زما همدومره په وس پوره دي. د چا چي ډېر وس رسیږي هغه دي خپل کار وکړي.
حدیث دی چي وایی که د ظالم لاس لنډولای نه سی او په خوله څه ورته ویلای نه سی نو لږترلږه په زړه کي نفرت ورڅخه وکړی.
زه چي د خپل وطن لیکوالانو، شاعرانو او پوهانو ته ګورم نو د نمرود اور او د مرغۍ مشوکه مي را په یاد سي. که د فلسطین د اور په وژلو کي هیڅ مرسته نه سی کولای، چي ریشتیا هم زموږ هیڅ په وس نه دي پوره، که د افغانستان د اوسني حالت د بهترولو په لاره کي یو ګام نه سی پورته کولای نو لږترلږه د خپلو قلمونو په سلوکي لس خو ورته متوجه کړی. په زړونو کی خو د بشریت او د خپل هیواد غلیمانو ته نفرت وښیاست. د لیکوال وظیفه له خپل وطن څخه په تښتېدلو او د آرام ساحل ته د ځان په رسولو نه ختمیږي. لیکوالان او شاعران باید یو ځل خپل سرونه ګرېوانونو ته ټیټ کړي او وګوري چي موږ څه لیکو؟ او که د مضمون او شعر لیکل هیڅ ګټه نه لري نو بیا ولي په خپلو لیکنو او شعرونو د خلکو وخت ضایع کوو؟
زه چي د خپلو لیکوالانو لیکنو او د شاعرانو شعرونو ته ګورم نود اسي ښکاري لکه په نړۍ او وطن کي چي هیڅ پېښه نه وي سوې او هر څه ګل و ګلزار وي. زموږ په سلو کي نیوي یا حتی زیات مضامین او شعرونه د هیواد او نړۍ له روان وضعیت سره هیڅ ډول اړخ نه لګوي. شاعران مو تر اوسه پوري ګودرونه په خوبویني او د خیالي پایزیبونو شرنګا ته سرونه غورځوي. او یا په خپلو شعرونو کي له داسي کلماتو او ترکیباتو څخه کار اخلي چي زه یې د یوه سپین ږیري شاعر او لیکوال په حیث په معنا نه پوهېږم. او که یې زه په معنا نه پوهېږم نو دا شعرونه به یې چاته لیکلي وي؟
نن مي، په همدې ویب سایټ کي، د یوه لیکوال او شاعر محترم عبدالغفور لېوال پر مضمون سترګی ولګېدې چي د « ناروغ او د درملني ارزښت » تر عنوان لاندي یې لیکلی وو. ښه مضمون وو؛ خو لېوال بیا هم خبره په شف شف کي ختمه کړې وه. وه وروره! شفتالو ووایه. نور د کنایو وخت نه دی. لېوال لیکلي دي چي ناروغ نه ډاکټر ته ځي، نه پرهېز کوي او نه دوا خوري او چي د ډاکټر، درملو او پټۍ خبره ورته یاده کړې نو ټولو ته بد رد وایی ګواکي ناروغ تر ناروغۍ زیات په ډاکټر او درملو غوسه دی.
د لېوال صاحب مضمون څکه زه خپل ځان ته متوجه ګڼم چي زه پخپله په همدغو ناروغانو کي یم. دونه باید ووایم چي موږ له ډېري پخوا څخه ناروغ یو خو د ناروغۍ سخت حالت مو د ۱۳۵۷ کال د ثور له کودتا څخه پیل سوی او تر نن پوري هره ورځ تر هغی بلي سخت سوی دی. دا وخت ښایی لېوال صاحب لا ماشوم وو او په ښه او بد به نه پوهېدی.
زه له لېوال صاحب څخه مننه کوم چي زه یې په داسپینه ږیره او د عمر په وروستیو شپو ورځو کي خپلي ناروغی ته متوجه کړم. خو پوښتنه مي دا ده چي څوک خو دي په دې څه باندي ۴۵ کلونو کي یو حاذق او ریښتونی طبیب وښیي چي افغانان ورته ورغلي نه وي او د هغه په قول یې کړي نه وي.
زه ډېر لیري نه ځم؛ څکه چي خبري ډېري ببځایه اوږدیږی. کله چي امریکایانو او ناټو( چي هر وخت یې فقیر ته سلا یوه ده او د فلسطینیانو روان قتل عام یې ښه مثال دی) د سپټمبر د یوولسمي د حادثې په پلمه پر افغانستان باندي یرغل وکړ او د یرغل په جریان کي یې د بُن، په اصطلاح، جرګه را وبلله او، له ګلبدین څخه پرته یې، چي ښایی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کومي بلي ورځي ته به يې ساتلی وي، د ټولو پخوانيو جنايتکارانو څخه يو نمايشي غونډه جوړه کړه او د افغانستان لپاره يې داسي حکومت جوړ کړ چي ټولو جنايتکارانو ته يې، چي محترمي او زړه وري ملالۍ جويا، وحشي حيوانانو ته په بشپړه بې احترامي، هغوی د باغ وحش لايق وبلل، ونډه ورکړه. له هغې شومي ورځي څخه بيا تر نن پوري، چي د افغانانو رنځونه ورځ تر بلي زيات سوي دي، کوم حاذق طبيب ښودلای سی چي رنځورو افغانانو يې يا پر خبره غوږ نه دی نيولی او يا يې د هغه درمل قبول کړي نه دي؟
په دې څه کم پنځه ويشتو کلونو کي کوم طبيب د افغانانو پر وينو باندي تجارت نه دی کړی او کوم طبيب درمل ورته راوړی دی؟ په کوم نامه پر هغوی باندي سياسي تجارت نه دی سوی؟ تر سلو زيات ګوندونه، چي ما هر وخت واړه او لوی دوکانونه بللي دي، ورته جوړ سوي او هر يوه خپله ناروا ګټه کړې او په خپله مخه تللي دي. په دې صورت کي ناروغ ولي پر طبيب او درملو په غوسه نه وي؟
ښاغلی لېوال! څه موده مخکي دي په همدې ويب وسايټ کي ليکلي وه چي دا وطن سپارتاکوس ته اړتيا لري. آهای ځوک شته؟ ما سمدستي درته وليکل چي هم ځوان او ليکوال او شاعر يې. ته پخپله سپارتاکوس يې مخ کي سه. ته ولي مخ کي نه سوې. دا ستا نقص نه دی. عمومي سياسي فضا داسي راغلې ده چي که ته مخ کي سوی وای ښايي پنځه تنه درپسي تللي نه وای. ګواکي نه سپارتاکوس په ځان باور نه لري او نه خلک په سپارتاکوس پسي ځي. دوې درې مياشتي مخکي، په بهر کي ميشتو افغانانو د زوم له لاري يوه جرګه جوړه کړې وه او ماته يې هم د وينا کولو بلنه راکړې وه. په هغه جرګه کي ټولو وينا والو ډيري احساساتي ويناوي وکړې او تقريباً ټولو د ملي اتحاد ږغ پورته کړ.
کله چي زما نوبت سو نو ما ورته وويل چي « دا وطن که په بيانيو جوړېدلای نو په دې څه باندي څلوېښتو کالو کي په لس هاوو زره ويناوي ورته سوي او په لس هاوو زره شعرونه او مضامين ورته ليکل سوي دي. خو له بده مرغه، هغه چي د ملي اتحاد چيغي وهي هغه د بې اتفاقی اور ته لمن وهي. کنه دا يې ګز دا يې ميدان. زه په دې جرګه کي اکثر برخه وال نه پېژنم. خو مهرباني وکړی يو مخ کي سی زه درپسې يم»
هيچا ږغ ونه کړ. علت يې دا دی چي هيڅوک د سپارتاکوس کېدلو جرأت نه لري او په مقابل کي هيڅوک په هيڅ سپارتاکوس باور نه سي کولای. ځکه داسي نوم نسته چي دوی په هغه نامه غولول سوي نه وي.
البته اوس هم ناوخته نه دی. يو څوک مخ کي سی. شف شف مه کوی سم شفتالو ووایاست. که زه ډېر بوډا او ناروغ نه وای ما به پخپله يو څه کړي وای. تاسي باور وکړی دغه ګړی چي مي مضمون ليکی ډاکټر مي ټلفون راته وکړ او هدايتونه يې راکړل. زه د مشرتابه نه يم خو تر هغو چي مي په وجود کي حرکت وي قلم به په شعر او نثر درته چلوم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ